**مطبوعاتي اعلامیه**

## د حکامو خیانت او ډار د دې لامل شوی چې د یهودانو شریر دولت د مسلمانانو په ښارونو کې مجاهدین ترور کړي

(ژباړه)

د ۲۰۲۴م کال، د جنورې په ۲مه، د بیروت په جنوبي څنډه کې د یهودي دولت د خاینانه او شریرو عملیاتو په ترڅ کې د یوې بې پیلوټه الوتکې د برید په پایله کې شیخ صالح العاروري او د هغه ځینې ملګري ووژل. له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو چې پر هغوی خپل رحمت او مفرت ولوروي او د شهیدانو ابدي ځای ورکړي.

د یهودي دولت د ظلم او تېري لاس اوږد شوی او پر سپېڅلې خاورې سربېره، د بلې اسلامي خاورې په پلازمینه کې د خلکو له وژلو او ویجاړۍ خوند اخلي؛ دا ځل یې په بیروت کې د مجاهدینو په ترور لاس پورې کړی. له دې سره یهودي دولت نه یوازې د فلسطین پر خلکو برید وکړ او مجاهدین یې شکنجه کړل؛ بلکې د رژیمونو او د هغوی د حکامو "کاذب عزت" او "تش په نوم حاکمیت" چې پاتې و، هغه یې هم له منځه یوړ. یهود د همدغو حکامو په شتون کې هغه مجاهدین شکنجه کوي او وژني، چې په خپله خاوره کې یې پناه اخستې. د حکامو پر پلازمېنو برید کېږي چې دوی لکه ذلیل ډارن چوپه خوله دي. دا د دښمن لخوا د دوی له توهین او سپکاوي پرته بل څه نه دي؛ دغه دښمن له وړاندې د دوی عزت او وقار تر پښو لاندې کړی. حکام کاڼه، ړانده او ډارن دي؛ د دښمن د ځواب ویلو جرات نه شي کولی!

دغو حکامو د فلسطین خلک له ماتې سره مخ کړي او د دوی له لاسه په سپېڅلې خاوره کې له منځه وړل کېږي. د شهیدانو او ټپیانو شمېر تر ۸۰،۰۰۰ اوښتی. همدا حکام د مجاهدینو پر وړاندې دسیسې جوړوي چې له ماتې سره یې مخ کړي. داسې ښکاري چې دغه حکام په همدومره شرم او خیانت نه دي راضي او ان یو شمېر مجاهدین اوس په خپلو پلازمینو کې وژني.

د یهودي دولت د جنګ او جنایت لمن په پراخېدو ده. په ګناه او وینو ککړ لاس یې د ګاونډیو پلازمینو ته غزیدلی، هلته مجاهدین او په مجاهدینو پورې تړلي هر څه موخه ګرځوي. ظلم او ستم اوج ته رسېدلی. دا ځکه چې داسې څوک نشته چې لاس یې لنډ او ان ملا یې ماته کړي او جرړې یې راوباسي. د دوی په وینو او ګناوو ککړ لاس به همداسې غځېدلی پاتې وي او ویجاړۍ به تر هغه دوام مومي، چې څو دا ډارن حکام د واک پر ګدۍ ناست وي. څوک چې دا فکر کوي چې د یهودي دولت فساد او جنایت په مصنوعي پولو پورې محدود

دی، تېروتنه کوي او د یهودانو فاسد طبیعت نه پېژني. څوک چې پر هغو حکامو باور لري، چې د خپلو خلکو پر وړاندې خبرو کې ادعا کوي، چې د فلسطین په یوازې پربېښودلو سره خپل هېواد د یهودو له شریر دولت څخه امن ساتي، احمق دي. دا دي یهودي دولت یې پر پلازمینو برید کوي او مسلمانان په خپلو کورونو کې وژني.

**اې مسلمانانو په ځانګړې توګه ستاسو په منځ کې د قدرت څښتنانو، افسرانو او سرتېرو!**

دغه دښمن ستاسو د حکامو د ذلت او سپکوالي له امله تاسو ته په کمه سترګه ګوري چې دښمن ته یې د همکارۍ لاسونه ورکړي دي. اوس دښمن ستاسو په منځ او ستاسو په پلازمینو کې، چې ستاسو تر ساتنې لاندې دي، ستاسو زامن، د فلسطین خلک او مجاهدین شهیدانوي. همداسې له شاوخوا ۹۰ ورځو راهیسې هغوی په فلسطین کې د غزې په خاوره کې هره ورځ شهیدانېږي. د هغوی د شهیدانو او ټپیانو شمېر اوس ۱۰۰،۰۰۰ ته رسېدلی. نو څه کوئ؟ ایا دغه شهیدان او وینې یې پر تاسو حق نه لري!؟ ایا د مسلمان وینه شرعي حرمت نه لري، چې د ملاتړ لپاره یې باید اقدام وکړئ!؟ ایا د مسلمانانو وینه هغه سره کربښه نه ده چې، غوسه یې باید په عمل بدله شي او داسې خوځښت رامنځ ته کړي، چې د دغه دولت جرړې وباسي؟ ایا پر پلازمینې برید ستاسو پر عزت او وقار برید نه دی، چې باید په اړه یې پوځونه بسیج کړئ!؟ ستاسو حکامو دغه دولت ته جرات ورکړی؛ فکر کوئ چې بیا به ستاسو پر وړاندې داسې جسارت ونه کړي او په خپلو کورونو کې به مو ونه وژني!؟

**اې مسلمانانو او د واک خاوندانو:**

له دغو پېښو سره نور د چوپتیا او بې حرکته پاتې کېدو لپاره پلمه نه لرئ. په دغو وینو ستاسو او الله د دښمن، یهودي دولت لاسونه سره دي. ستاسو له خاورې یې د ځان لپاره د جګړې ډګر جوړ کړی. دا هر څه شپه او ورځ پر تاسو غږ کوي او له تاسو څخه غواړي چې د خپل دین، خپلو ورونو او خلکو د ملاتړ لپاره وخوځېږئ. خپل ثبات وساتئ او مسلمانان د دغو حکامو له مصیبتونو څخه خلاص کړئ. مسلمانان د دغو حکامو له ذلت او شر خلاص کړئ، چې ستاسو پر وړاندې یې دښمنانو ته جرات ورکړی. دا کار داسې کولی شئ چې د دغو حکامو تختونه رانسکور کړئ او یوې مخلصې رهبرۍ، حزب التحریر ته –چې ستاسو په منځ کې دی- نصرت ورکړئ چې د نبوت پر منهج راشده خلافت اعلان کړي. دا خلافت دی چې تاسو به د جهاد او فتح په ډګرونو کې رهبري کوي؛ د پاکو وینو غچ به اخلي، دفاع به یې کوي، د الله سبحانه وتعالی امر ته به لبیک وایي او تاسو به د الله د رضا لپاره د دښمن په مقابل کې مخ پر وړاندې بیایي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

[**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ**][توبه: ۳۸]

**ژباړه:** *«اې مومنانو! پر تاسو څه شوي دي، کله چې تاسو د الله تعالی په لاره کې د وتلو لپاره وویل شول، نو تاسو پر ځمکه درانده کښېناستلې؟ ایا تاسو د اخرت په مقابل کې د دنیا ژوند کړی دی؟ که داسې ده نو تاسو ته دې معلومه وي چې دنیوي ژوند دا ټول وسایل به په اخرت کې ډېر لږ راووځي.»*

**حزب التحریر - د فلسطین سپېڅلې خاوره**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۲۰مه**

**۲۰۲۴م کال، د جنوري ۲مه**

د صدور ګڼه: ۱۰/ ۱۴۴۵

ژباړن: محمد حامد